# خبري خپرونه

نړيوال بانك
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي نړۍ ته د رسيدلو لپاره هلې ځلي

| شمېره: SAR | اړيکي:<br>نړيوال بانك په کابل کې: عبدالرووف ضيا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>Azia@worldbank.org<br>نړيوال بانك په واشنګټن کې: اريك نورا ۴۵۸ ۴۷۳۵ (۲۰۲)<br>enora@worldbank.org |
|---|---|

## د نړيوال بانك د رئيس مرستياله: د حکومتدارۍ ښه والی او د اداري فساد سره مبارزه د تل پاتي پرمختيا لپاره خورا اهميت لري.

**کابل (د جون دريمه، ۲۰۰۸)**: د نړيوال بانك د رئيس مرستياله، ميرمن انګوزي اکونجو آيويلا نن خپل د افغانستان درې ورځنی سفر بشپړ کړ او د هغې په اوږدو کې يې د هيواد د ثبات او پرمختګ لپاره د نړيوال بانك پر اوږد مهاله ژمنه بيا ټينګار وکړ.

مېرمن اکونجو آيويلا د خپل سفر په موده کې د هېواد جمهور رييس ښاغلي حامد کرزي، د کابينې وزيرانو او د مرستندويه ټولنې له استازو سره وکتل. هغه خبرې اترې چې ترسره شوې به عمومي توګه د جون د مياشتې په دوولسمه نېټه د پاريس د کنفرانس لپاره د تياريو په هکله وې. همدا راز، اکونجو آيويلا د باميان ولايت له کيلوالو سيمو څخه ليدنه وکړه ترڅو د لمړيتوبونو د ټاکنې او په سيمو کې د مهمو بنسټيزه جوړښتونو د ودانولو په موخه د سيمه اييزو پنډغالو د غونډو څرنګوالی په مستقيمه توګه وګوري.

*«يوازې افغانان کولای شي افغانستان ته پرمختيا ورکړي. نو ځکه دوی بايد هغه ننګوني او ستونزې چې د مؤسسو د جوړولو، د اداري فساد پر ضد د مبارزې او د هېواد وګړو ته د خدمتونو د برابرونې په لاره کې شته دي، له منځه يوسي. نړيواله ټولنه بايد د افغانستان او د هغې د پرمختګ څخه ملاتړ وکړي او په دې پوه شي چې دا پروسه اوږد مهاله مرسته غواړي.»* دا خبره **اکونجو آيويلا** څرګنده کړه او زياته يې کړه چې *« په هغه هېوادونو کې چې اوس مهال يا په دې وروستيو کې جګړو ځپلي دي، او د کارونو ظرفيت او مؤسسې يې کمزورې وي، د برياليتوب لپاره مهم ګامونه د بنسټيزه جوړښتونو ودانول او بيا رغونه دي. خو ددې موخې ترسره کېدل وخت غواړي.»*

اکونجو آيويلا يادونه وکړه چې افغانستان د نورو په پرتله په لنډه موده کې ډېرې لاس ته راوړنې درلودلې دي. د هېواد کابو ۸۵ سلمه خلك اساسي روغتيايي خدمتونو ته لاس رسی لري او له ۶ ميليونو څخه زيات ماشومان ښوونځيو ته ځي. اوس تر ټولو مهم لمړيتوب دادی چې د هېواد د خلکو لپاره اغېزناکې پروژې پراختيا ومومي. دې زياته کړه چې د خدمتونو د برابرونې د کيفيت ښه توب لپاره سترې ننګونې تراوسه شته دي او د پرمختګ لپاره به لازمه وي چې د دولت کاري توان ته د پام وړ پراختيا ورکړل شي او عامه ادارو اصلاحات پراختيا ومومي او د اداري فساد پر ضد کوټلي ګامونه واخستل شي. دې ياده کړه چې *« حکومت بايد د خدمتونو د وړاندې کولو په هکله مسوولیت ولري او په دې هکله بايد مسوول وګڼل شي.»*

د پاريس په راتلونکي کنفرانس تمه ځي چې د افغانستان دولت به خپله پنځه کلنه ملي پراختيايي تګلاره (ستراتيژي) وړاندې کړي. دا يوه جامع ستراتيژي ده او د هېواد پرمختيايي لر ليد څرګندوي. نوموړې ستراتيژي د دولت، مدني ټولنې، خصوصي سکټور او عامو خلکو د ۱۷۰۰۰ استازو د پراخو مشورو پر بنسټ چې د هېواد، ولايتونو او سيمو په کچه ترسره شوې، جوړه شوې ده.

اکونجو آیویلا  یادونه وکړه چې د ستراتیژۍ دا سند ښیي چې افغانستان په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د ماتې راهیسې په ګڼو اړخونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی.  خو تر اوسه هم ددې هېواد د هغه هڅو پر ضد لویې ننګونې شته دي چې د امنیتي حالت د ښه توب، د یوه اغېزمن او حساب ورکوونکي دولت د جوړښت او د تل پاتې اقتصادي ودې پیل او بېوزلۍ د ختمولو په موخه ترسره کیږي.

*« دا ستراتیژي زیاته هڅه غواړي چې یو سم کار دی.»* دا خبره اکونجو آیویلا  یاده کړه او زیاته یې کړه چې *« ددې ستراتیژۍ د ترسره کېدو لپاره پکار ده چې د نړیوالې ټولنې سره د اعتماد په فضا کې همکاري وشي او لمړیتوبونه په ښکاره توګه څرګند شي. ددې همکارۍ اصلي شرط دادی چې د فساد د مبارزې، عوایدو د زیاتوالي او د خصوصي سکټور د ودې لپاره د مساعدو شرایطو د منځ ته راتګ لپاره پرېکنده ګامونه واخستل شي.»*

د نړیوال بانك د رئیس مرستیاله د نړیوال بانك د څو تمویل شویو پروګرامونو څخه لیدنه وکړه چې د ملي پیوستون پروګرام تر پوښښ لاندې کلیو هم پکښې ګډون درلود. دې وویل چې *« دا پروګرام نه یوازې د بنسټیزه جوړښتونو د ودانو له کبله مهم دی بلکه د کلیو په کچه د ټولو خلکو په ګډون د سیمه ایېزې اداري بنسټ ږدي او په کلیو کې د بېوزلۍ کچې ته کمښت ورکوي.»*

 همدارنګه اکونجو آیویلا  د کوچنیو پورونو د یو شمېر مشتریانو خبرې واورېدې چې دوی څرنګه د خپل کرېډت څخه د تښشاتو جوړولو لپاره کار اخلي او یو شمېر ښځینه پور اخستونکو سره یې د خبرو په مهال وویل چې « زمونږ د خوښۍ ځای دی چې دا پروژه د زیاتو بېوزله کورنیو سره مرسته کوي ترڅو خپل د ژوندانه اړتیاوې پوره کړي ». همدارنګه زیاته یې کړه چې *« زه پوهېږم چې هغه مرستې چې ستاسو د تښبثاتو د جوړولو لپاره درکول کیږي نه یوازې ستاسو د کورنیو عواید جوړوي بلکه د هغې په مرسته په عمومي اقتصادي نظام کې هم تاسو کولای شی چې د یوه اغېزمن او ګټور غړي په توګه خپله ونډه واخلی.»*

په دې وروستیو کې نړیوال بانك ۳۰ میلیونه امریکایي ډالره مرسته په افغانستان کې د کوچنیو پورونو د سکټور د ثبات لپاره ژمنه کړې ده. د هېواد په ۲۳ ولایتونو کې له ۴۳۶۰۰۰ زیاتو افغانانو لپاره د کوچنیو پورونو خدمتونه برابریږي. ۶۵ په سلو کې پور اخستونکي، ښځې دي. د بامیانو په ولایت کې اوس مهال ۳۶۲۲ کسانو کوچني پورونه اخستي دي. اکونجو آیویلا څرګنده کړه چې له ۲۰۰۱ کال څخه راپدیخوا د ددې سکټور د مشتریانو شمېر ته په پام سره دا جوتیږي چې د کوچنیو پورونو پروګرام د افغانستان په ډېرۍ برخو کې د بېوزلۍ د کمښت او د بېوزله کسانو لپاره د اقتصادي فرصتونو او کار موندنې لپاره خپل توان څرګند کړی دی.

نړیوال بانك د ۲۰۰۲ کال د اپریل په میاشت کې په افغانستان کې خپل فعالیت بیا پیل کړ او په دې موده کې یې تر اوسه پورې ۳۷ پروژې تمویل کړې دي چې ۱,۶۶ میلیارډه ډالرو په ارزښت ژمنه یې کړې ده چې له دې څخه ۱,۲ میلیارډه ډالره وړیا مرسته او ۴۳۶,۴ میلیونه ډالره یې کریډت ( بې ګټې پورونه) دي. په اوسني مالي کال ( ۲۰۰۷ کال د جولای څخه د ۲۰۰۸ کال تر جون میاشتې پورې)، کې به د نړیوال بانك د وړیا مرستو ژمنه ۲۵۵ میلیونه  امریکائی ډالره وي. د نړیوال بانك د مرستو ډېرۍ پروژې بنسټیزه جوړښتونو بیاودانونې، تعلیماتو او اساسي روغتیایي خدمتونو د برابرولو له لارې د کلیوالو وګړو ژوندونه پیاوړي کوي.

په افغانستان کې د نړیوال بانك د چارو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې انټرنتي پاڼه کتلای شی:

http://www.worldbank.org.af